ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-27

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**عمران خان**

پی ایچ ڈی (پشتو) ریسرچ سکالر، پختونخوا مطالعاتی مرکز، باچاخان یونیورسٹی چارسدہ

**ڈاکٹر کرن سینین**

اسسٹنٹ پروفیسر، پختونخوا مطالعاتی مرکز، باچاخان یونیورسٹی چارسدہ

# د قبایلیت معنا او مفهوم

**Imran Khan ***
PhD (Pashto) Research Scholar, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha Khan University Charsadda.

**Dr Kiran Seeneen**
Assistant Professor, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha Khan University Charsadda.

***Corresponding Author:** alamdawar022@gmail.com

## The Meaning & Significance of Tribalism

Tribalism is the name of unconditional love and affection for the values and attitudes of one's family or one's tribe, which does not allow them to disappear in any way. However, some negative attitudes are kept in mind along with positive values in tribalism but still tribes feel proud of it and it becomes a source of their identity. Even today, the world is a collection of many tribes that have their own sacred traditions and rituals and they look at them very seriously. The head gives them recognition and importance and attention is paid to their antiquity. It should also be mentioned that due to some negative attitudes, the tribes are facing many issues and problems, that are behind the full hands of the local administrative authority because the tribes cannot move from the dark to the light and they are facing deprivation. It should also be remembered that there are still tribes in the world. How Pashtuns are recognized by this reference and have become part of modern world.

**Key Words:** *Tribalism, Values, Attitudes.*

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-27



قبایل ټکے د عربي ژبې نه اخستل شوے دے چې د يوۀ نسل د خلقو ټولے ته وئيل کېږي ، يا قبايل به د يوې نظريې لرونکي ټولے بلل کېږي او يا دا چې د ګڼو قبيلو نه جوړ شوے ټولي ته هم قبايل وئيل کېږي _ [(۱)] د دغو قبيلو د ژوند طور طريقې ، روايات ، رسمونه رواجونه او رويو نه جوړ شوے يو ځانګړے قانون شتون لري چې خلق يې د قبايليت په نامه پېژني ، قبايليت پخپله ځيني ښۀ قدرونه او ځيني منفي روايات هم لري ، که دغه قانون مثبتې و منفي اغېزې هم لري خو بيا هم قبايل يې په پللو ټينګ ولاړ وي. [(۲)]

د قبايلو نه مراد د خلقو داسې ټولے دے کوم چې د يوۀ هېواد د ننه ژوند کوي خو د خپلو ځانګړي قوانينو او رواياتو ترمخه جلا رنګ ژوند تېروي . هغوي په خپلو مخصوصو علاقو کښې اوسېږي خو د ملک يا انتظاميې د هېڅ قسمه قانون پابندي نۀ مني - [(۳)]

قبايليت د خپلو خلقو د يو بل سره د مضبوطې مينې و فاداري ، د رشتې ساتلې يا د ترجيح ورکولو نامه ده . د کلچر ترڅنګ قبايليت په سياست او د سپورټس په لوبو کښې هم کېدے شي . قبايليت په کلتوري توګه د داسې خلقو ګروپ سازوي چې د يوۀ مخصوص ډول سوچ و فکر په اساس يووالے اختياروي او خپل انفرادي سوچ و فکر ته دوام او وده ورکوي _ [(۴)]

په دې حقله عارف مسعود په خپل کتاب " وزيرستان کرم سے ګومل تک" کښې د قبايلزم او قبايلزو د اصطلاح وضاحت داسې کوي :

"قبائیلزم یا قبائیلزو اپنی خاندان سے لامحدود اور بلاشرط وفاداری کا نام ہے جو غم اور خوشی کے وقت یکساں رہی ہے، یہ مخصوص حثیت اور فیملی کے ہر شریک ممبر پر لازم کرتا ہے کہ وہ اپنے خاندان کے ہر جائز اور ناجائز اعمال کا ذمہ دار ہو اور ہر قسم کے اعمال کو خوشی سے

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-27



قبول کریں، یہ محرک اور مخصوص حثیت ہم آہنگ ذہنوں کے ایک موثر تعاون کو سامنے لے اتی ہے جو کہ خاندان، خون اور رسم ورواج کے مضبوط رشتوں سے تشکیل پاتی ہے "(۵)

ژباړه: قبایلزم یا قبایلزو د خپلې کورنۍ سره د لا محدوده او بې له شرطه د وفاداري نوم دے چې د غم او خوښۍ په وخت کښې یو شان پاتې کیږي ، دا ځانګړے حثییت د خپلې کورنۍ په هر شریک غړي باندې لازمه وي چې د خپلې کورنۍ د هر سم او ناسم عمل مسؤلیت ولري او هر ډول اعمال په خوښۍ سره ومني ، دا هڅونکے او ځانګړے حثییت د کورنۍ ، وینې او دودونو د قوي اړیکو له مخې د ورته ذهنونو اغیزمنه همکاري رامنځته کوي.

قبایلیت پخپله یو داسې نظام دے چې د خپل قبلوي ژوند ژواک د پیاوړي کولو ملا تړ او د سیمیزو حالاتو ترجماني کوي . دا هم په ډاګه ده چې د انساني ژوند ارتقاء په داسې ښکاري ډول کښې شوې ده لکه ننني دور کښې ځینې قامونه د پرمختللي تهذیب سره د مضبوط معیشت په وجه د یو بل مخالف دي.(۶)

د دې سیمو د غې مخصوص قانون تر سیورې که یوخوا د خپلو قبلوي رواجونو په بنیاد یو سماجي تړون پیدا کوي نو بل خوا د انفرادي فائدې د حاصلولو په اساس د تعلق او خود اعتمادی جذبه هم ورکوي (۷) _

په دې حقله عارف مسعود یو ځاے لیکي چې :

"یہ رشتے اپنے خاندان کے اندر ذہنی یگانت، اپنی بقاء، باہمی اتحاد اور برابری کا احساس یاد دلاتے ہیں اور یہ احساس اہستہ اہستہ اصابیت کو پیدا کر لیتی ہے یہ اصابیت پٹھان قبائیل میں عموماّ وزیرستان کے قبائیل میں خصوصاّ بدرجہ زیادہ موجود ہے اور اب بھی ہے، تاریخ دان شاید اس بات سے اتفاق کرلینگے کہ افغانوں یا پٹھانوں کا گزرا شاندار تاریخی زمانہ قبائیلی تاریخ سے عبارت ہے.یہی قبایلزم یا قبایلزو ایک ایسا جذبہ ہے جس نے ایک خاندان میں عزتِ نفس اور احساسِ برتری اجاگر کیا اور ایک بار یہی جذبہ کسی مخصوص خاندان میں بیدار ہو

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-27

جائے تو اس خاندان سے توقع کی جاسکتی ہے کہ وہ بہادری اور شجاعت کے سارے ریکارڈ توڑ دیتے ہیں اور اس خاندان نے کئی قوموں اور قبیلوں کو شکست دی انہیں فتح نصیب ہوئی اور دشمنوں کو اپنے ہی علاقوں سے مار بھگایا. قبائیلزم کے اس مخصوص جذبے کے ذریعے اور احساسِ برتری نے انکو اپنے زمانے کے بادشاہ گر بنائے اور مختلف اوقات میں مختلف ادوار کے سلطنتوں پر روشناس ہوگئے، اس سارے عمل اور جدوجہد کے پیچھے ان ہی قبائیلی جذبے کا سب سے اہم رول رہا ہے. ،یہی وہ وجہ ہے کہ ایک شخص کیلئے افغان یا پٹھان یا کوئی اور قامیت کا نام لینا کوئی بڑی بات نہیں بلکہ ایک فرد کیلئے بڑی اہم بات یہی ہے کہ وہ اپنی خاندانی حثیت کے مالک ہے اور اپنی حثیت برقرار رکھتی ہے ،یہی وہ جذبہ ہے جسکو ہم قبایلزم کہتے ہیں ، اسمیں خاندانی تشخص یا حثیت کا کوئی قصور نہیں ہے. قبیلے کی بناوٹ خاندان، شاخ، خیل، قوم اور قبیلے سے عبارت ہے جس طرح قبایلزم اپنے قبیلے کے ہر جائز اور ناجائز اعمال کا دوسرے قبیلے اور حکومت کا ذمہ دار ہوتا ہے اسی طرح خاندان، شاخ، خیل اور قوم کا ہر فرد اپنے اپنے قبیلے کے متعلقہ افراد کے کردار کا دوسرے خاندان، شاخ، خیل اور قوم قبیلے اور حکومت کا ذمہ دار ہوتا ہے. اگر خاندان کا کوئی فرد خاندان سے باہر کوئی جرم کرے تو خاندان کا ہر ایک ممبر فردِ جرم تصور کیا جاتا ہے، اسی طرح شاخ خیل اور قوم یا قبیلے کا کوئی فرد اگر کسی دوسرے شاخ خیل اور قوم یا قبیلے میں جرم کرے تو ملزم کے شاخ خیل اور قوم قبیلے کا ہر فرد مجرم تصور کیا جاتا ہے، اجتماعی ذمہ داری کا یہ تصور حکومت اور قبیلے کیدرمیان تعلقات کا تعین کرتا ہے اور مختلف قبایل کے باہمی تعلقات کا تعین بھی اجتماعی ذمہ داری کے تحت ہوتا ہے اجتماعی ذمہ داری کے اس تصور نے اب ایک تھیوری کی شکل اختیار کی ہے اور مختلف اوقات میں کئی ریاستي انہیں باقاعدہ ایک قانونی شکل بھی دی ہے۔"(۸)

ژباړه: دا اړیکې په خپله کورنۍ کښې د فکري یووالي، خپل تحفظ ، د یوبل تړون او برابرۍ احساس یادوي او دا احساس په تدریجي ډول اصابیت رامنځته کوي ، عموماً دغه اصابیت د نورو پښتنو قبایلو په نسبت په خاصه توګه په

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-27
ماخذ تحقیقی مجلہ

وزیرستاني قبایلو کښي زیات شتون لري ، او دا هم ده شاید چې تاریخ پوهان دې خبرې سره اتفاق ولري چې د افغانانو او پښتنو تېره شوي ځلانده تاریخي زمانه د قبایلي تاریخ نه عبارت ده.
دغه قبایلزم یا قبایلزو یو ډول احساس دے چې په یوه کورنۍ کښي د عزتِ نفس او برترۍ احساس پیدا کوي او کله چې په یوه کورنۍ کښي دغه جذبه بیداره شي نو هغوي څخه دا توقع کېدے شي چې هغه کورنۍ د بهادرۍ او زړورتیا ټول ریکارډونه ماتولے شي او دغې کورنۍ ډېرو قامونو او قبیلو ته ماتې ورکړه او بریا یې ترلاسه کړه او دشمنان یې له خپلو سیمو څخه وتښتول . د قبایلزم د دغې ځانګړې جذبې او د برترۍ د احساس له امله دوي د خپل وخت باچاهان شول او په بېلابېلو وختونو کښي په بېلابېلو زمانو کښي په سلطنتونو بر لاسي شول ، د دې ټول بهیر او مبارزې په شا هم د دې قبایلي جذبې تر ټولو مهم رول پاتې شوے دے. هم دا لامل دے چې د یو چا لپاره د افغان یا پټان یا کومې بلې قبیلې نوم اخستل کومه لویه خبره نۀ ده بلکې د یو سړي لپاره تر ټولو مهمه خبره دا ده چې د خپلې کورنۍ حیثیت ولري او د خپل حیثیت ساتنه وکړي. هم دا هغه جذبه ده چې مونږ یې قبالیزم بولو ، په دې کښي د کورنۍ پېژندګلو یا حثییت هیڅ ګناه نشته. د قبیلې جوړښت د کورنۍ ، ځانګې ، خېل ، قام او قبیلې څخه جوړ دے لکه څنګه چې قبایلیت کښي د نورو قامونو او حکومت په وړاندې د خپلې قبیلې د هر جایز او ناروا عمل ذمه واري وي ، په هم دې ډول د کورنۍ ، ښاخ ، خېل او قام هر غړے د خپلې قبیلې د اړوندو غړو رول د بلې کورنۍ ، ځانګې ، خېل او قام ، قبیلې او دولت ذمه واره دے . د کورنۍ څخه بهر د جرم مرتکب د کورنۍ هر غړے مجرم ګڼل کیږي ، په ورته ډول که د یوې ځانګې او قام یا قبیلې غړے په بله ځانګه او قام یا قبیله کښي

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-27



جرم وکړي نو د ځانګي هر غړے او د تورن قام یا قبیله مجرم ګڼل کیږي. د اجتماعي ذمه واری دغه مفهوم د حکومت او قبیلي تر منځ اړیکه ټاکي او د بېلا بېلو قبایلو د یوبل سره اړیکي د اجتماعي ذمه واری له مخې ټاکل کېږي چې د اجتماعي ذمه واری دغه مفهوم اوس د یوې نظریې بڼه خپله کړې ده او په بېلابېلو وختونو کښې ګڼو ریاستونو دې ته باقاعده قانوني شکل هم ورکړے دے.

د بېلګې په توګه د قبایلیت ډولونه شتون لري، زمونږ په دې ننني ټولنه کښې د قبایلیت ګڼ شمېر ډولونه مخې ته راتلے شي . د قبایلیت یو ښکاره مثال د سپورټس د یوۀ ټیم د لوبغاړو په خپل مینځ کښې مضبوط تړون دے چې دغه مضبوط تړون اکثره د سیمیز شناخت و پېژندګلو له خاطره ترل کېږي او د خپل ځانګړي علامت په توګه دوي ته وده او پراختیا ورکول کېږي .(۹)

یو بل لیکوال د قبایلیت مفهوم ته داسې اشاري کوي:

> "خاص طور پر قبائلی علاقوں میں رسم و رواج کو رواجی قانون کی حثیت حاصل رہی ہے، ویسے بھی قبائیلی نظام میں رسم و رواج کی خلاف ورزی سنگین جرم تصور کیا جاتا ہے، خلاف ورزی کرنے والے کو خاندان سے بے دخل کر دیا جاتا ہے، یا انہیں قتل کر دیا جاتا ہے یا اسی طرح کے کئی سزائیں دی جاتی ہیں، جبکہ غیر قبائیلی علاقوں میں رسم و رواج کو اتنی زیادہ اہمیت نہیں دی جاتی، نہ ہی کسی کو شہر بدر کر دیا جاتا ہے اور نہ ہی رواج کی خلاف ورزی اس قدر معیوب اور قابل سزا تصور ہوتی ہے جس طرح قبائیل میں ہوتی ہے اسلئے قبائیلی معاشرے کی کلچر کو سمجھنا بہت ہی ضروری ہے ."(۱۰)

ژباړه: په ځانګړي توګه په قبایلي سیمو کښې رسم و رواج ته د رواجي قانون حثیت ورکړل شوے دے ، هسې هم په قبایلي نظام کښې د رسم و رواج څخه سرغړونه سخت جرم ګڼل کیږي ، سرغړونکے یا له خپلي کورنۍ څخه شړل کیږي یا

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-27
ماخذ تحقیقی مجلہ

وژل کیږي او دا رنګي مختلف قسمه سزاګانې ورکول کیږي خو غیر قبایلي سیمو کښې رسم و رواج ته دومره زیات اهمیت نهٔ ورکول کېږي او نهٔ هم څوک له ښاره ایستل کیږي او نهٔ هم د رواجونو څخه سرغړونه دومره ناوړه او د سزا وړ ده لکه څنګه چې په قبایلو کښې ده نو ځکه د قبایلي ټولنې د کلتور پېژندنه زیاته مهمه ده.

په ځینې قبایلي ټولنو کښې د قبایلیت ځینې پړاوونه د ختمېدو په مرحله کښې دي یاده دې وي چې د قبایلي ټولنې د انتظامي واکمن پولیټیکل ایجېنټ وي ، دا هم ضروری نهٔ ده چې د هرې قبایلي ټولنې واکمنې دې د (پي اے) په لاس و اختیار کښې وي خو بیا هم وئیلے شو چې په داسې لرو پرتو سیمو کښې اکثرا د دهٔ واکمنې برقراره وي ، که وغواړي نو پولیټیکل واکمن د ټولو قبایلي سیاست مدارانو ، وزیر اعلیٰ او نورو اعلیٰ حکامو سره په داسې پېښو خبرې اترې کوي چې په دې ترڅ کښې یې ښهٔ نتایج هم رابرسېره کړي دي . قومي سوچ و فکر او جذبې ته وده ورکړې شوه ، په دې خاطر د قومي سرکرده مشرانو سره د مبارزې په لړ کښې داسې هڅې وشوې چې په دې سبب یې ټول ازمېښتونه او حربې ناکام کړې شول . دا اړتیا ظاهرېږي چې د نړی قام پرست یا سیاسي ګوندونه د دې بیمارۍ په وړاندې د مسلسلې مبارزې او جامع حکمت عملۍ په پام کښې وساتي او د ټولنې د نمایندہ مشرۍ په ملاتړ خپلې تګلارې وټکي چې دا دې غیر معیاري نظام په دې ډول خاتمه وشي او یا یې د مخنیوي چلونه رابرسېره شي.

قبایلیت پخپله ځاني یو داسې شے دے لکه مارټن روبن یې د قبایلو له مخه د زورواکۍ یو بنسټ ګڼي چې بنسټونه یې مونږ پخپله یو او یوازې مونږ په ځانونو محدود کړي دي خو د څو ملي اتلانو او ملي دانشورانو په حواله قبایلیت یو ناسور ، ناروغي ده چې یو فرد یې یوازې په

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-27
ماخذ تحقیقی مجلہ

وجود کښي نۀ بلکې د هغوي په ډلو کښې هم موجوديت لري.

د نړۍ په ځينې سيمو کښې نن هم د قبايليت نخښې نښانې په نظر راځي بلکې د قبايليت منفي رويې او پخوانې رسمونه رواجونه اوس هم وجود لري. د ډېره غازيخان او د دې ټولنې د قبايلي قانون په حقله د فکر خاوندان او نور څو کسان په دې فکر کښې دي چې دلته د يوۀ قبايلي رياست د شتون ګنې نخښې نښانې شتون لري چې د يوۀ قبايلي حثيت لرلرو په اساس دوي همېشه ځانونه له يو بل نه ډېر مختلف حسابوي او خپل قبلوي پېژندګلو جدا شمېري . په دې سبب هره قبيله پخپله په ځانې توګه د يوۀ بدبودار بوي په لټولو کښې ده چې د خپلې انا او ځاني حثيت په سبب د بلې قبيلې نه د لويوالي په فکرونو باندې مجبوروي . اکثرو قبيلو ځانله جدا جدا غېر قانوني پاليسياني سازې کړې دي چې د نورو خاندانونو غوندې د نظام په کاميابولو کښې مددګار ثابتيږي. په دې حقله د ځينو ليکوالانو دا فکر دے چې قبايلي نظام په ځينو قامونو کښې تل ترتله په يوۀ تناؤ کښې برقرار وي. دا د کومې جنګ جګړې يا سياسي مزاحمتي رويې اثر نۀ وي بلکې دغه معامله يو نفسياتي وجود لري چې د ځينو قامونو يا قبيلو په مخصوص حثيت جوړولو او برقرار ساتلو کښې دغه جوړ شوي قوانين او اصول مهم کردار لوبوي. د بېلګې په توګه که څه هم يو فرد يا ټوله قبيله د دې اصولو او قوانينو څخه د مخ اړولو کوشش وکړي بيا د ټولنې هغه کسان چې ځانونه غېرت مند يادوي نو د تشې خولې جوړ شوي بې دليله خبرې ورته وکړي چې دوي د ګنو تکليفونو ، ذهني فشار او اذيتونو سره مخ کړي. دا وجه ده چې په ټولنه کښې ځينې قبايلي وګړي داسې هم وي چې د دې نظام څخه د بغاوت او د ناخوښې چغې ووهي او د خپل اولس او قام لپاره د يوې روښانې لار په

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-27



لټون پسې شي خو د ستم ظرفی خبره دغه ده چې په دې لار کښې د چا د حثيت او اهميت خبره کېږي هغه حثيت په قبايلي نظام کښې تقريباً له يوې ښځېنه او په هغوي د شوي ظلم سره تعلق لري چې د يوې ښځېنه د ذات سره پېلېږي او د يوې ښځېنه ذات سره پايله مومي او په قبايلي ټولنه کښې دا هغه يوازينی طبقه ده چې دوي د ټولو نه زيات د محکوميت او د استحصال ښکار شوه او اوس هم دغه لړی دوام لري.[۱۱]

قبايليت پخپله يوخوا مثبت ګامونو اوچتوي نو بل خوا منفي رويې هم لري چې د هغې په سبب اغېزې هم په پام کښې ساتلې شوې دي ، په اجتماعي توګه که وکتے شي نو د قبايلي نظام په مثبتو ګامونو کښې د ماشومانو پرورش کول ، په يو ځاے د اوسېدو او د خوراک څښاک بندوبست کول او د خپلې قبيلې په کار و روزګار کښې د يوۀ بل سره مله تړل شامل دي _ دا رنګ د قبايليت په منفي اغېزو کښې د رازداری ، نړيوال معيشت ، کاروبار و لېن دېن نه لرې والے او د بهر هېوادونو سره محدوده فاصله ساتل هم د ذکر وړ دي .[۱۲]

د انساني تاريخ د لر غوني دورې حالات د وحشت ، جنګ جدل ، بربريت ، مرګ ژوبلې او غلامی نه تر غلامی پورې د ګڼو ډولونو نه ډک ليدل شوي دي ، که وګورو نو د تاريخ يوه پاڼه هم د انساني بربادی او ظلم و ستم نه خالي نۀ ده ، د لرغونې دورې قبايلي مشران داسې د طاقت په نشه مست پاتې شوي دي چې کله يې هم غوښتلې ده ، څنګه يې هم غوښتلي ده نو د خپل زور و طاقت په اساس د کمزورو قامونو په وينو يې لاس سرۀ کړي دي ، چنګېز خان دے او که هنز ، که د پهراکاډيان قبايلي جنګيالي وګړي دي خو په دوي ټولو کښې د بربريت ، ظلم او تشدد نخښې نښانې موجودې وې او په سترګو کښې يې د وينو سرۀ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-27



ليدل شوي دي_
د درجنو کتابونو مصنف ، نقاد اېلن بکانن پخپل کتاب The Moral Fate کښي زياتوي چې د تاريخ دغه توره لړی پوره په پوره رښتيا نۀ ښايي _ د اخلاقياتو معيار هم وخت په وخت ترقي کړې ده ، نن انسان د مخکښي پشان بربريت نۀ خوښوي ، اوس د دۀ په سترګو کښي هغه شان سرۀ نۀ ليدل کېږي _ ياد مصنف د قبايلي جنګ و جدل نه راواخله د اخلاقياتو د معيار ترقی او انسانيت تر مرتبې پورې دغه يون يې د خپل ليک موضوع ګرځولې ده ، د دۀ خيال دے چې د لرو پرتو سيمو مخصوص قانون (قبايليت) په موضوع مورخين متفق نۀ دي ، هره يوه ډله ځان ځانته تشريح او مفهوم بيانوي . په عامه توګه د زړو قبايلو نه مراد هغه وګړي دي چې غېر مهذب وي ، د عقل و شعور نه بلکل خالي او د رڼا د پوهې نه بې برخې پاتې شوي وي ، دا رنګ د اخلاص او ملګرتيا حثيت نه لرې په بدکارۍ کښي ښکېل وګړي ياد کړل شوي دي ، په دې مفهوم د سوشل سائنسدانانو کښي هم د اختلاف فضا قايمه ده که چرته ټول په يوۀ مينځني مفهوم متفق شول نو دا به ډېر ګټور ثابت شي .(۱۳)
د قبايلو پحقله د دغي ناوړې رويو ته يو بل ليکوال داسي نظر لري:

"قبایلزم بذات خود ایک بڑا تنازعہ ہے کیونکہ ان میں کئی شاخیں اور خیلیں ہوتی ہے اور قبایلزم اپنے قبیلے سے بلا شرط اور لا محدود وفاداری ہے, لہذا ہر شاخ کے افراد اپنی شاخ کے افراد کو دفاع میں کمربستہ رہتے ہیں، لہذا قبایلزم بذات خود ایک متنازعہ اور معاملہ ہے" (۱۴)

ژباړه: قبايلزم پخپله يوه لويه تنازعه ده ځکه چې دې کښي ډېرې څانګې او ډلې وي او قبايلزم د خپلې قبيلې سره بې له شرطه او لامحدوده وفاداري ده نو د هرې څانګې غړي د خپلې څانګې د غړو په ملاتړ کښي اودرېږي ځکه قبايليت پخپله يوه متنازعه او مسله ده.

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-27



د قبایلیت د مثبتو قدرونو او پخوانو روایاتو په حقله یو بل لیکوال زیاتوي چې:

"رسم ورواج اور تہذیب وثقافت زمانے کے ساتھ ساتھ بدلتے رہتے ہیں، رسم ورواج میں تبدیلی قوم کی خامی نہیں بلکہ رسم ورواج میں یہی بتدریج تبدیلیاں ہی ترقی کا مظہر ہوتی ہے کیونکہ ہر دور کے اپنے تقاضے ہوتے ہیں اسلئے میرے خیال میں نہ تو اپنے اباوجداد کے تمام رسوم ورواج سے چمٹے رہنا عقلمندی ہے نہ ہی ان تمام کو فرسودہ سمجھ کر ان سے کنارہ کشی اختیار کرنا ترقی کا معیار ہے بلکہ علم اور شعور کی آگاہی کیساتھ غلط اور نقصان دہِ رسم ورواج سے کنارہ کشی اور دورِ حاضر کے تقاضوں سے ہم آہنگ، نفیس اور بہتر رسم ورواج کو اپنانا ہی متوازن معاشرے کی نشانی ہے". (۱۵)

ژباړه: رسمونه رواجونه، تهذیب او کلتور د وخت تېرېدو سره سره بدلون مومي، په رواجونو او رسمونو کښې بدلون د قام ګناه نۀ دے بلکې په دود او دستور کښې دا تدریجي بدلونونه د پرمختګ څرګندونه ده ځکه چې هر دور خپلې اړتیاوې لري نو زما په اند نۀ د خپلو پلارونو ټولو دودونه پلل هوښیاري ده او نۀ هغه ټول فرسوده بلل او هېرول د ترقۍ معیار دے بلکې د علم، شعور او پوهې راتلو سره ناسم او ناوړه دودونو څخه ځان ساتل او د حاضر دور د تقاضو سره تړلي ښکلي او غوره دودونه خپلول د متوازن او ښې ټولنې نخښه ده.

که وکتے شي نو په اخلاقي حوالو سره لوے پرمختګ په تېرو دوو صدو کښې شوے دے، وړومبے بدلون يې د قبایلو حقونه څېړل دي او هغه د نړۍ د انساني بنیادي حقونو په فهرست کښې شاملول دي، دا ډول ځناورو ته هم د انسانانو غوندې حقونه ورکړے شول _ تشدد، ظلم جبر، لوږه تنده، ډېر زیات دروند شے پرې بار کول بلکې په دوي پورې مسخره کول او د دوي تذلیل کول هم جرم وګڼل شو، د فلمي شوټنګ په وخت د هاتي وربوز په نیولو هم په عدالت کښې اپیل

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-27



وشو ، مقدمه پرې جوړه شوه او هغه په وړه پنجره کښې بندول هم د ځناورو د حقونو څخه سرغړونه ده ، دا د اخلاقي ترقی لوړولے دے ، د ځناورو نه علاوه د ربوټ حقونه هم وشودل شول بلکې اوس خو په مصنوعي ذهانت او روبوټ باندې هم بحث شروع شوے دے نو د روبوټ او مصنوعي ذهانت تنازعه د مسلې سره پېښ ده خو روبوټ او اې ون ټېکنالوجي ته کوم قسم حقوق باید ورکړل شي ، لا پرې کار شروع دے _ د شمالي فلوریډه پوهنتون پروفېسر جوشواسي ګیلرز پخپل کتاب Right of Robots کښې ګڼ شمېر نکات رامخې ته کړي دي بلکې د حقوقو په فهرست کښې د روبوټس او اې ون ټېکنالوجی یوه جدیده او شکلي اضافه ده ـ (۱۶)

مصنف اېلن بکانن مخکښې زیاتوي چې زۀ وئیلے شم چې انسان اوس په سحي معنو کښې د انسان شکل اختیار کړے دے ، اوس په انسان کښې غېر معمولي انسانیت راغلے دے ، د اخلاقي قدرونو ، اصولو پابندی نه سرغړونه واله کس ته په ټولنه کښې په بد نظر کتل کېږي بلکې هغۀ ته د ځناور نامه اخستل کېږي ، اېلن بکانن یو بل مفهوم هم رامخې ته کړے دے هغه دا چې خپل مینځې اختلاف د نورو ګڼو معاملو او تنازعو سبب جوړېدے شي چې دغې ته قبایلي سوچ لرونکي هم وئیل کېږي ، په قبایلي نظام کښې د انا او تکبر نفي کول یا سرغړونه د بې عزیتی نخښه ده ، قبایلو د کلچر جنګ ته هم هوا ورکړه ځکه چې دوي کښې په یو بل د حاوي کېدلو سوچ و فکر هم وخت په وخت دوام لرلو، هسې خو په قبایلي نظام کښې یوه اړخیزه پاملرنه موجوده وي ، دې کښې په مینځ کښې د پاتې کېدو هېڅ امکان نۀ وي ځکه چې د مینځ نه خو د دواړو خواوو ته جنګ وي۔ (۱۷)

اېلن بکانن یوبل ځاے لیکي چې زور زیاتے په انساني جینز کښې فطرتي شامل دي ، مونږ د ټولیو په شکل کښې زیاته خوشحالي محسوسوو ، د

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-27
ماخذ تحقیقی مجلہ

خپل ټولي نه د وتلو کوشش نهٔ کوو ، مطلب دا چې د قبایلیت یاد شوي معني د انساني فطرت نخښې دي ، یا دغه ناروغي زمونږ په روح کښې پرته ده څکه چې انسان د تل لپاره د نړۍ په تقسیمولو کښې بوخت دے ، د عالمګیریت باوجود سمندر په کوزه کښې د بندولو یوه هوا خوره شوې ده ، خپله څان افضل ، لوړے اوچت او پاتې نړۍ د تلې په بله برخه کښې لاندې او کمتره تلل او لیدل غواړي ، د قبایلیت نه د بچ کېدلو یواځینې لاره دا ده چې په څاني توګه لږ لچک پېدا کړي شي ، زمونږ دیانت داري ، رښتونوالي او حق ګویي مو د انتشار لعنت نه د بچ کېدلو اسباب سازېدے شي بلکې د خطرناکې اغېزې نه د بچ کېدلو فقط دغه څانګړې لار ده ۔ (۱۸)

ایلن بکانن پخپلو لیکنو کښې سوال راپورته کوي چې که قبایلیت زمونږ په جینز کښې شامل شوے دے نو بیا هم د دې لعنت نه د خلاصون لاره ممکنه ده ، د دې سوال څواب پخپله وایي چې څینې سائنسدانانو په نزد انسان که اخلاقي ترقي ومونده خو هغه د قبایلیت حثیت نه بهر نهٔ شي اوتے ، هغه اوس هم په فطري توګه د قبایلي رویو او سوچ ملاترے دے ، د هر کس د نفسیاتو دغه برخه زوروره ده ، که د ساینسدانانو ومنلې شي خو بیا هم ټولنه د خپل قبایلیت (قبایلي سوچ ) نه څان نهٔ شي خلاصولے او دې نه بهر کېدل ناممکن دي څکه خو سائنس هم تر څهٔ حده مایوسه دے خو دوي ډېر زیات مایوسه هم نهٔ دي ، مخکښې زیاتوي چې تاسو کښې که چا د سیان هېنتي اثر live Free or die الوستلے وي ؟ هغهٔ د انساني رویو په اړه یوه نتیجه رامخې ته کوي چې نړۍ د بربادۍ تر ډګره رسېدونکې ده ، اوس د دې ختمېدل دي ، د بچ کېدو یې یوه څانګړې لار شته هغه دا چې یو بل ته په زړهٔ کښې احترام ولرئ او د یو بل د زړهٔ نه احترام وکړئ ، خپل هم په احترام سره او سېبړئ او د بل د او سېدلو احترام و حقو نه

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-27

ماخذ تحقیقی مجلہ

وپېژنئ ، که داسې ممکنه نهٔ شوه نو نړۍ ختمه وګڼئ ، دا رنګ د دې اثر په حواله ایلن بکانن د نړۍ د بقاء لاره ښودلې ده چې پخپله هم ښهٔ اوسئ او بل هم ښهٔ اوسېدلو ته پرېږدئ ۔[۱۹]

د دې مصنف سره څهٔ اختلاف رایې په بنیاد دا وئیلے شو چې د نړۍ په هره منطقه کښې قبایلي نظام یو شان نهٔ وي ، د یوهٔ بل خبرې اورېدل او توجو ورکول کېږي ، خپل مینځ کښې د عدل و انصاف کولو اقدار هم لري ، سوال هم دغه دے که په لرغوني قبایلو کښې انسانیت نهٔ وے نو ټولنې به څنګه ترقي و پرمختګ کولو او نړۍ به څنګه ترقي و خوشحالي موندله ، او که د غه لرغونو قبایلو کښې د مېلاوېدلو یا د راشه درشه اقدار نهٔ وے نو معاشره به څنګه په نړیوال کلي (Global village) کښې بدلېدله _ دا خبره استېڼن پنکر هم واضحه کړې ده چې غلامي تقریباً ختمه شوې ده ، ښځېنه ته خپل حقوق ورکړې شوي دي او دوي ته ښهٔ مقام ترلاسه شوے دے او دوي ته په ائیني و قانوني مېدان کښې هم خپله جائزه برخه مېلاؤ شوې ده ، [۲۰]

دا هم یاد ساتل پکار دي چې د نورو فرقو ، نسلونو او مذهب لپاره که په زړهٔ کښې ځاے نهٔ دے مېلاؤ شوے نو په خاصه توګه د قانون او ائین له لوري ورته خپل مقام و حثیت ضرور ورکړې شوے دے ۔

- - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - -

## حوالې

1. Offline Urdu to Urdu Lughat, "قبائل", Visited: August 10, 2023. An android app, Available in play store http://play.google.com/store/details?id=com.ifocusapps.urdulughat.offline.dictionary

۲. تورګل، انجنیر، قبائیل، جلد اول، پښتو ادبي جرګه پشاور یونیورسٹی، سن ۲۰۱۳، ص ۲۲

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-27

ماخذ تحقیقی مجلہ

3. https://ur.m.wikipedia.org/wiki/Tribalism

Visited, dated 22 Jun 2024

4. https://www.populismstudies.org/Vocabulary/cultural-tribalism/

Visited, dated 5 July 2024

۵. عارف مسعود، وزیرستان کرم سے گومل تک، پ س ن، ص ۶۳

6. https://en.m.wikipedia.org/wiki/Tribalism

Visited, dated 11 July 2024

7. Why we hate ? : Tribalism activity (US vs Them) , Shoah Foundation, page 2

Visited, dated 15 July 2024

۸. عارف مسعود، وزیرستان کرم سے گومل تک، پ س ن، ص ۶۴، ۶۵

9. Why we hate ? : Tribalism activity (US vs Them) , Shoah Foundation, page 2

Visited, dated 15 July 2024

۱۰. شاہین شیرانی، محمد اشرف، ڈاکٹر، پروفیسر، بلوچستان کے پشتون قبائیل، اسلام اباد، لوک ورثہ، ۲۰۱۹، ص ۱۷

۱۱. خالد بلوچ، ڈیرہ غازی خان اور قبائیلیت، ارٹیکل، گوگل، ۲۵ مارچ ۲۰۱۹، ص: ۳

12. http//www.quora.com/what-are-the-advantages-and-disadvantages-of-living-in-a-tribal-society?top_ans=118891269

Visited, dated 5 January 2024

۱۳. صہیب مرغوب، قبائیلی سوچ سے نجات اور اخلاقی ترقی، ارٹیکل، روزنامہ اوصاف، ۲۳ فروری ۲۰۲۱، ص ۲

۱۴. عارف مسعود، وزیرستان کرم سے گومل تک، پ س ن، ص ۱۰۲

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-27
ماخذ تحقیقی مجلہ

۱۵. شمس مومند، مومند قبائیل آج اور کل، پشاور، اعراف پرنٹر، ۲۰۰۵، ص ۱۶۳

16. Joshua C Gellers , professor, Right of Robots , Routledge London, 2020, page : 88

17. Allen buchanan , Our Moral Fate , the MTI press, Landon England, 2020, page : 55

18. IBID, P: 55

19. Sean Hannity , Live Free or die , trademarks of Siman & Schuster, Inc , USA, 2021, page : 70

۲۰. صہیب مرغوب ،قبائیلی سوچ سے نجات اور اخلاقی ترقی ، ارٹیکل ، روزنامہ اوصاف، ۲۳فروری ۲۰۲۱ ، ص ا، ۲، ۳